افغانستان ـ تاجکستان – پاکستان

د سرحدي اوبو ورکشاپ

له لري واټن څخه د زده کړې څلورم ماډیول

## ۴. د افغانستان جهيلونه

- د افغانستان په زیاترو برخو کې جهیلونه عمومیت نلري، خو خلکو او حیواناتو ته د اوبو په برابرولو کې خوارا مهم دي او جهیلونه د تازه او خوږو اوبو په احیا کولو کې چې په ځمکه کې ښکته نفوذ کوي او د ځمکي لاندی اوبو په کوم ځای کې چې ژورې څاګاني ( tabe wells)  او کاریزونه د کرنې لپاره په کار وړل کیږي، خوږی او تازه اوبه برابري کړي (۴٫۱ شکل )




*۴-۱ شکل : د افغانستان نقشې ځینې لوی جهیلونه ښیي لکه د شیوا ، د ناور د دښتې ولاړې اوبه صابری هامون د هلمند هامون، ګودزره، ولاړې اوبه.*

- جهیلونه د افغانستان په غرونو او شمال ختیځ کې زیاتره تازه او خوږې اوبه برابروي. (۳٫۴ ۲٫۴شکلونه )



*۴-۲ شکل : د واخان په دهليز کې يخچالی جهيل په دې ځای کې لرغونې کنګلونه اوبه شوي دي او شاته يې په ډېرينه حوزه کې جهيل پريښي دي، چې اصلاً د کنګل په واسطه تورل شوي دي.*



*۴-۳ شکل : د چقمقتين قول يا جهيل د واخان په دهليز کې په لوړه سيمه کې چې لوړوالی يې زيات دی، پروت دی چې يوځل د واخان اوبه ورڅخه روانې شوي او اوس شمال ته بهيږي، سره له دې چې د اقسوشا اوخوا تر تاجکستان پامير پورې رسيږی ، چې وروسته له پنج سيند سره په ښکتنی برخه کې يوځای کيږي. دغه جهيل په لويه ډېرينه ساحه او حوزه کې چې د کنګل په واسطه په هغه وخت کې ژور شوی دی ، چې کنګل ډير ډبل و، مخکې لدې چې څو زره کاله مخکې اوبه شي دغه حوزه يې رامنځته کړی ده . د زوري قول يا جهيل چې د پامير د اوبو منبع او د پنج سيند څانګه او مرستيال دی. په همدغه ډول دغه جهيل د واخان په دهلېز کې د يخچالی حوزی جهيل دی.*

- د افغانستان د جنوب لویدیځ ، لویدیځ او شمالي ټیټو سیمو جهیلونه عموما مالګین دي او څښلو لپاره ګټور ندي، خو ځیني هغه اوبه چې بېلابېلي مالګې لري ډېرې ګټورې دي او په لوړه بیه پلورل کیږي. ( ۴-۴ الف ، ب ، ۵-۴ الف اوب)




*۴-۴ الف شکل : د اندخوی د نمکسار هغه تصویر چې د سپوږمکی په واسطه اخیستل شوی دی او مقیاس يې په ښکتنی چپ اړخ کې یو کلیومتر اوږود والی لري.*



۴-۴ ب شکل: هغه تصویر چې له ځمکې اخستل شوی دی او د اندخوی نمکسار ښيي چې دغه حوزه د شمال لویدیځ څخه د قوي باد پواسطه الوتی ده . ځینی وختونه په موقتی ډول اوبه لري او مخکې له دی چې وچ شي، سپینه مالګه شاته پریږدی.




۴-۵ الف شکل : د هرات نمکسار وچ مالګین جهیل له ایران سره په پوله پروت دی . دغه جهیل په میلیونونو کلونو مخکې ، چې شکست ښکته په ځمکه کې ننوت رامنځته شو. پدی وخت کې ډېرین غرونه چې د هغی په شاوخوا کې پراته وو، مات شول او ښکته خواته په ځمکه کې ننوتل. مقیاس يې په پاسنی منځنی برخه کې پنځه کېلو متره اورډ دی. هغه زیږه کرښه چې په کینېه خوا کې پورته او ښکته ده له ایران سره نړیواله پوله په نښه کوي.




۴-۵ ب شکل :د ولاړو اوبو جهيل هغه ځای چې د چمن – کويټې د مشهور شکست په امتداد کې واقع دی . دلته شکست په ځمکه کې ښکته خواته ننوت، دغه جهيل په وروستنيو کلونو کې وچ شوی دی او ګټه ورځخه نه اخيستل کيږي. ( ۴-۵ ج شکل )

- جهيلونه د بېلابېلو بهيرونو ( پروسو ) پواسطه تشکېليږي. يخچالونه ، سيندونه ، د باد لګېدل ، د ځمکې ښوېدل ، په طبيعي ډول د کاربونيټ جوړېدل ، تکتونيک (شکستګی، د ځمکې کېناستل) ، اور غورځونکي او د انسان په لاس، ټول په کې برخه لري.
- هغه ډنډ چې د افغانستان د بدخشان په پامير کې د يوې ځمکې ښويدنې په پايله کې رامنځته شوي دي د شيوا جهيل دی. ( ۴-۶ شکل ) د شيوا جهيل د هغې زلزلې په واسطه رامنځته شوی دی، چې دده crossing strike – slip faults احجار هغه وخت مات کړل چې کله يې حرکت وکړ او غر له شمال ځخه ښکته راپريووت.




*۴-۶ شکل : د شیوا د جهیل نقشه ښيي چې په زرګونو کلونو مخکې ښايي یوې زلزلې په د ځوړې ښوېدل رامنځته کړې دي او شکست ښکته خواته تللی دی، د ځمکې ښویدنه Q1 S1 او Q2 S2 په هغه ځای کې واقع شوې چې لومړی دلته د ځوړې ښوییدل رامنځته شو. او بیا Q1 S3 او Q1 S4 رامنځته شو. هغه جهیل چې کښتې خواته وو د هغه سیند پواسطه ډک شو، چې له کښې اړخ (لویدیځ) څخه بهېده او بیا وروسته بېرته ښي اړخ (ختیځ) ته پنج سره یوځای شو، چې یو څو کیلو متره لېرې بهیږي.*

- د بند امیر مشهور جهیل ( ۴-۷ شکل ) په خپله ډنډ شوی دی ( پخپله ډنډ جوړېدل ) چې په خاص ډول د چوني له ډېرو رامنځته کېدل پخپله ډنډ جوړولو ته ویل کېږي $caco^3$ یا کلسیم کاربونیټ ، له هغو اوبو چې سرې وي رامنځته کېږي.



شکل۴،۷ . بند امیر.

- ځینی جهیلونه هغه وخت جوړیږي، چي ځمکي ښکته د شکست د حرکت له مخي ننوځي (۷-۴ الف او ب ۸-۴ الف او ب ) لکه د ټول سیستان ژوره حوزه چې د هلمند سیند په کې اوبه غورځوي یا د سر حوز sari howz جهیل چې میمني ته نزدې پروت دی او په افغانستان کي د شکست د حرکت له مخي يې یو سیند دلته ډب کړی دی ( ۹-۴ شکل )



۴-۷ الف شکل : په افغانستان کې ځینی جهیلونه له ژمي وروسته چې واورې اوبه کېږي ډکېږي او بیا وروسته په تود اوړي کې چې زیات باد الوزي ( ۱۲۰ ورځنی باد الوزي) وچېږي.




۴-۷ب شکل : د هلمند د ښکتنی برخې سیند چې واورې په هندوکش کې اوبه شي په موقتي ډول هامون کې چې له ایران سره په پوله کې دی توییږي.




۴-۸ الف شکل : د افغانستان په جنوب لویدیځ کې د سیستان د لویې حوزې نقشه په زرګونو کلونه مخکې دلته ډېر زیات لوی جهیلونه وو، چې د هلمند د ډېر لوی سیند پواسطه ډکېدل او له هغې څخه وروسته کوچنی شو.



۴-۸ ب شکل : د سیستان د حوزې په وروستی برخه کې د هلمند دلتا رسم شوي ده، چې جهیل وچ شوی دی د ګودزرې وچ شوي جهیل یوه لویه سپینه دښته چې د تصویر وروستنی برخی په مرکز کې ښکاري.




*۹،۴ شکل : د ساری هوز د ساحی د سپوږمکی تصویر شمال ختیځ شکست ښيي چې ډېرې راپورته شوي دي او سيند يې ډب کړی دی.*

- جهيلونه په اور غورځونکې کې هغه وخت رامنځته کېږي، چې د غره په څوکه کې بيرون ته چاودنه وشي او بيرته ښکته راپريوزی يا subsides سبسايډ شي ( ۱۰-۴ شکل ) غزنی ته نږدی د ناور دښته د چپ اورغوځونکي چې په وروستی ځل ۲,۲ ميليونه کاله مخکي وچاوده او ډېره لويه حوزه يې شاته پريښوده.




*۴-۱۰ شکل : د ناور د دښتې د سپوږمکی تصویر چې له ۴۷کېلو متره په لوړوالي له پاسه اخیستل شوی دی، چې مقیاس یې په پاسنی برخه کې ۵ کېلو متره اوږودوالی لري.*

- په افغانستان کې ځینی جهیلونه د داسی حوزی په توګه جوړ شوي دي، چې اوبه راټولوی خو د هغی لامل معلوم ندی. د حشمت خان قول یا جهیل د پیچلی لاملونو له مخی د کابل د ښار په حومه کې تشکېل شوی دی، خو اوس د یو مهم ځای په توګه فعالیت کوی، چې هلته روانی اوبه یا د ځمکې د مخ اوبه د ځمکې لاندی اوبو ته ننوځي او نفوذ کوي، چې د ځمکې لاندی اوبه احیاء کړی هغه ځای چی اوبه د عمیقو څاګانو له وجهه کښته تللی دی.



۴-۱۱ شکل : هغه عکس چې د الوتکې پواسطه د کابل د جنوبي برخې چې د حشمت خان ( شهدای صالحین) نومېږي اخیستل شوی دی، که چېرې عکس ته  د جنوب ختیځ په لور وکتل شي نو په ژمي کې له اوبو ډک ښکاري.




۴-۱۲ شکل : پاسنی نقشه او لاندینی رسم د کابل د حوزې د ځمکې لاندې د اوبو سطح ښکاره کوي، چې اوبه د ښار لاندې پمپ کېږي، خو دا ساحه باید له هغه ځایه د اوبو پواسطه بیا ډکه شي چې هلته سیندونه یا جهیلونه د ترسباتو پواسطه ښکته خواته اوبه پمپ او نفوذ وکړي او د ځمکې لاندې اوبه احیاء کړي.

**له لیرې واټن څخه د زده کړې څلورم مادیول پوبښتنی (دلته کلیک وکړی)**